**د ترووریزم تر سرلیک لاندې مسلمانان له بې عزتۍ او ګواښ سره مخ دي**



د ۲۰۱۸م د فبرورۍ پر ۱۶مه د جمعې په ورځ، یوې مسلمانې مېرمنې حنیا ساګر (د مسلمان لیکوال شهید ابو دروګو مېرمنې)ته په ممباسا کې د محکمې له لورې د لس کاله بند سزا اعلان شوه. د محکمې د ستر قاضي په وینا، دغه مېرمن په هغه تروریستي برید کې په لاس لرلو تورنه ده، چې د ورانکارو له لورې د پولیسو پر مرکزي دفتر تر سره شو. تر دې یوه ورځ وروسته د شنبې په ورځ د ۲۰۱۸م د فبرورۍ پر ۱۷مه یو بل مسلمان وګړی شیخ ګویو ګورسا(**GuyoGorsa**)د میلیمانې محکمې له لورې په نایروبي کې له الشباب تروریستي ډلې سره د غړیتوب په تړاو تورن شو. دا ښیي چې یو ځل بیا د کینیا مسلمانان له ځورنې سره مخ دي.

دا دوه پېښې د نورو ورته زړه بوږنونکو پېښو یو وړه بېلګه ده، چې د کینیا مسلمانان ورسره مخ دي، چې تر اوسه یې یادونه هم نه ده شوې.له دې څخه څرګندېږي چې د ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې موخه یوازې اسلام او مسلمانان دي. په نړیواله سطحه له ترهګرۍ سره د جګړې په پلمه د نړۍ مسلمانان بې عزته کېږي او د ګنو ګواښونو موخه ګرځي. ولې د لوېدیځ د دغې جګړې قربانیان یوازې اسلام او مسلمانان دي؟ اسلام یوه داسې ایډیالوژي ده چې د مخلوقاتو د خالق له لورې را لېږل شوی، له انساني فطرت سره موافقه او د بشر ټولو هغو ستونزو ته حللاره لري چې انسانان په ژوند کې ورسره مخ کېږي. همداراز اسلام د سېکولرې پانګوالې ایډیالوژۍ یوازېنۍ او هر اړخیز بدیل دی. سېکولره پانګواله ایډیالوژي د انسان له محدود فکر څخه سرچینه اخلي او له انساني فطرت سره اړخ نه لګوي، ځکه نو کومې ستونزې چې نن ورځ بشر ورسره مخ دی، له سیاست څخه تر اقتصاد پورې ټول د همدې نیمګړې ایډیالوژۍ له امله دي.

د ۱۹۲۴م د مارچ پر ۳مه د اسلامي دولت (خلافت) له ړنګېدلو سره سم لوېدیځ قدرتونه په دې هڅه کې شول، تر څو خپله باطله ایډیالوژي له ناکامۍ څخه وژغوري او خپراوې ته یې لار هواره کړي. په همدې موخه لوېدیځ د امریکا په مشرۍ د اسلام او مسلمانانو د ځپلو لپاره پراخ کمپاین پیل کړ، د دغه کمپاین له څو اساساتو څخه یادونه کوو:

1. امریکا او متحدینو یې له رسنیو څخه د مرګوني وسلې په توګه ګټه اخیستل پیل کړل، چې خپل شعارونو لکه: ډیموکراسي، پلورالیزم، د بشر حقوق او د ډیموکراسۍ څلور آزادیو ( د عقیدې آزادی، د بیان آزادی، د ملکیت آزادی او شخصي آزادۍ) ته وده ورکړي، د اسلام اصلي څېره کمزورې وښیي او ترڅنګ یې په نړیواله کچه د هغو ډلو او اشخاصو پر وړاندې ودرېږي چې د اسلام غوښتنه کوي او بیا دا ډلې او اشخاص په بنسټپالو، تندلارو، سخت دریځو، ترهګرو او نورو نومونو نوموي.
2. لوېدیځ له مزدورو حکامو او د هغوی د چارچاپېره کړۍ له لاسپوڅو، دوه مخو، فرصت طلبو او داسې اشخاصو څخه چې د فاسد لیبرال د کلتور او د ژوند تر اغېز لاندې دي، ګټه واخیستله. په دې کړۍ کې داسې کسان هم شته چې په ښکاره ځان د اسلام خواخوږي بولي، لکه: درباري ملایان او یا هغه اشخاص چې خلکو ته د اسلامي مفکرینو په نامه د ځینو اسلامي حرکتونو له لورې ور پېژندل شوي، خو دوی په حقیقت کې له سیکولرانو پرته بل څوک نه دي، چې د دین او ژوند جلاوالي ته خلک رابولي.

د پورتنیو اساساتو پر بنسټ امریکا او متحدینو یې د هغو مسلمانانو پر وړاندې په ښکاره ډول یو نړیوال جنګ پیل کړ، چې د دوی پر وړاندې درېږي او د دوی د شعارونو خنډ ګرځي. هغوی لوېدیځ تمدن او د دوی باطلې سیکولر پانګوالې ایډیالوژۍ ته ګواښ ګڼل کېږي. په کینیا کې لوېدیځ پلوه امپرالیستان، چې مشري یې د امریکا له لورې کېږي، فزیکي شتون نه لري. دوی یې د ترهګرۍ پر وړاندې د رسمي کارېدونکي ځواک په بڼه ساتلي او د کینیا له دفاعي ځواک څخه یې د ۲۰۱۱م د اکتوبر پر ۱۶مه په سومالیا کې د برید په موخه کار واخیست. خو په کور دننه کې یې د افراطیت، سخت دریځی، بنسټپالنې له نومونو څخه په ګټې اخستنې سره د هغو کسانو پر وړاندې کار اخیستی چې ځانونه په ټینګه اسلام ته ژمن ګڼي.
د کینیا دولت، د نورو استعمار شوو دولتونو په څېر باید د مرستې د تر لاسه کولو په موخه لوېدیځوالو تمویلونکو دولتونو ته سر ټیټ کړي، خو د دوی دا مرستې په ځانګړو او پټو شرطونو پورې تړلې دي. یو له هغو شرطونو څخه په کینیا کې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې لوېدیځ پلوه د ترورېزم ضد پالیسی پلي کول دي چې د دغې پالیسی پر مټ د کینیا دولت باید د ترورېزم په پلمه له مسلمانانو سره جګړې ته دوام ورکړي. دغه وروستي پېښې د مسلمانانو پر وړاندې د لوېدیځ له لورې په دولتي کچه د ملاتړ کېدونکي ترورېزم، چې په سوریه، مصر، تاجکستان، ازبکستان، روسیه او نورو هیوادونو کې د مسلمانانو پر وړاندې مخته وړل کېږي؛ وړې بېلګې دي. دا پېښې هغو جنایتونو ته په کتو داسې برېښي لکه تر اوبو لاندې د کنګل شوې غونډۍ وړه څوکه، چې له اوبو څخه دباندې لیدل کېږي او نوره تر اوبو لاندې پټه وي.
﴿أَمْحَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُمۖمَّسَّتْهُمُ الْبَأْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُواحَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا مَعَهُۥمَتَىٰ نَصْرُاللَّهِ أَلَآ إِنَّ نَصْرَاللَّهِ قَرِيب﴾
[البقرة:۲۱۴]

*ژباړه: ایا تاسو دا انګېرئ چې همداسې به جنت ته ننوځئ، په داسې حال کې چې لاتر اوسه پر تاسو هغه څه نه دي تېر شوي،چې له تاسو څخه پر مخکینیو مومنانو راغلي دي. پر هغو ی ستونزې راغلې، کړاوونه ورته ورسېدل، ولړزول شول، ان تر دې چې د وخت پېغمبر او د هغه مومنو ملګرو فریادونه وکړل، چې د الله مرسته به کله راشي؟ په هغه وخت کې هغوی ته ډاډګېرنه ورکړل شوه،چې هو د الله مرسته نږدې ده.*

﴿إِنَّ مَعَ الْعُسْرِيُسْرًا﴾

[الشرح:۶]

*ژباړه: له شك پرته په تنګلاسۍ پسې پراختیا هم شته*

**لیکوال: د حزب التحریر۔ولایه کینیا مطبوعاتي دفتر ویاند شباني موالیمو**

**۱۴۳۹هـ.ق، د جمادي الثاني دویمه**

**۲۰۱۸م، د فبروري ۱۸مه**

**ژباړن: عبدالله لطفي**